## د پناه غوښتونکو د کار کولو حق

یو پناه غوښتونکی په توګه، تاسي ته یوازې هغه مهال چې د کار کولو د حق اعتباري سند ولرئ د کار اجازه ورکول کېږي. کله چې یوه دنده پیدا کړئ، تاسي باید وګورئ چې ایا ستاسي د کار کولو حق پیل شوی او ایا اوس هم د تطبیق ور دی.

یو پناه غوښتونکی باید خپل استخداموونکی ته که چېرې د کار کولو حق یې نور د اعتبار وړ نه وي خبر ورکړي.

که ستاسي د کار کولو حق فسخه شوي وي، له ځنډ پرته به استخداموونکی ته خبر ورکړئ. که چېرې دنده لرئ او د کار کولو حق نه لرئ، تاسي جرم ترسره کوئ.

## خپل د کار کولو حق اړوند معلومات څنګه ترلاسه کولی شئ؟

- د غوښتنلیک پروسه کې، پناه غوښتونکو ته یوه رساله «د کار کولو حق اړوند معلومات» ورکول کېږي، کوم چې هغوی ته وایي چې د کار کولو حق یې کله پیلېږي.
- د پناه غوښتونکی د کار کولو حق د نومورې د پناه غوښتني اړوند پرېکړې او د نومورې د استوګنې د جواز په کارت کې هم ښودل شوی دی.
- پناه غوښتونکی خپله هم د ټاکل شوی لګښت په بدل کې خپل د کار کولو حق اړوند سند غوښتنه کولی شي.

د کار کولو حق اړوند نورو معلوماتو لپاره، migri.fi/en/asylum-seeker-s-right-to-work څخه لیدنه وکړئ.

## د کار کولو حق کله پیلېږي؟

تاسي درې یا شپږ میاشتې وروسته له هغه چې پناه غوښتنې لپاره ستاسي غوښتنلیک څخه تیر شوی وي د معاش په بدل کې دنده ترلاسه کولی شي.

- که چېرې تاسي چارواکو ته د اعتبار وړ پاسپورټ یا د سفر نور اسناد وړاندې کړی وي، او تایید شوي وي چې اصلي دي، د انتظار موده به درې میاشتې وي.
- که د سفر اسناد مو نه وي وړاندې کړی، د انتظار موده به شپږ میاشتې وي.

## بیا غوښتنلیک د کار کولو په حق څنګه اغېزمنوي؟

1 جون 2019 څخه وروسته، که بیا غوښتنلیک وسپارئ تاسي باید د بیا کار کولو څخه وړاندې درې یا شپږ میاشتې انتظار وکړئ. بیا غوښتنلیک هغه غوښتنلیک دی چې هغه پناه غوښتونکی له لوري چې له دې وړاندې د پناه غوښتنې لړ تر لږه یو غوښتنلیک اړوند یې پرېکړه ترلاسه کړې وي له لوري سپارل کېږي.

- که چېرې تاسي چارواکو ته د اعتبار وړ پاسپورټ یا د سفر نور اسناد وړاندې کړی وي، او تایید شوي وي چې اصلي دي، د انتظار موده به درې میاشتې وي.
- که د سفر اسناد مو نه وي وړاندې کړی، د انتظار موده به شپږ میاشتې وي.

که تاسي 1 جون 2019 څخه وړاندې بیا-غوښتنلیک سپارلی وي، کار کولو ته ادامه ورکولی شئ.

## استخدام څومره ادامه پیدا کولی شي؟

کله چې پرېکړه ترلاسه کوئ، تاسې باید وګورئ چې ایا اوس هم ستاسې د کار کولو حق د اعتبار وړ دی. پرېکړه به په دې اړوند تاسې ته معلومات درکړي.

### ایا ستاسې د پناه غوښتنې غوښتنلیک منل شوی و؟

که ستاسې غوښتنلیک منل شوی و، اکثرو قضیو کې تاسې فنلینډ کې کار ته ادامه ورکولی شئ. ستاسې د استوګنې د جواز کارت یا پرېکړه تاسې ته په دې اړوند چې ایا فنلینډ کې د کار کولو حق لرئ معلومات درکوي.

### ایا ستاسې د پناه غوښتنلیک رد شوی و؟

که غوښتنلیک لیک مو رد شوی وي، ستاسې د کار کولو حق په لاندې ډول فسخه کېږي:

- که پرېکړه 1 جون 2019 څخه وړاندې پلي شي، د مثال په توګه که دغې نېټې څخه وړاندې په قانوني ډول له هېواد څخه ستاسې شړل شونی شي، بیا به ستاسې د کار کولو حق د پرېکړې قانوني ځواک ترلاسه کولو څخه وروسته فسخه شي.

- که پرېکړه 1 جون 2019 څخه وړاندې پلي نه شي، ستاسې د کار کولو حق د پرېکړې قانوني ځواک ترلاسه کولو څخه وروسته فسخه شي. مثلاً، کله چې په قانوني ډول له هېواد څخه ستاسې شړل شونی شي. دا به د فنلینډ د کډوالو خدمتونو پرېکړه کې تشریح شي.

### کله یوه پرېکړه قانوني ځواک ترلاسه کوي؟

یوه پرېکړه هغه مهال چې یو له لاندنیو حالاتو څخه واقع شي، قانوني ځواک ترلاسه کوي:

- تاسې له پرېکړې څخه خبر کړل شوي یاست او تاسې د استیناف 21 ورځې مودې کې اداري محکمې کې د استیناف غوښتنه نه وي کړې.
- تاسې د اداري محکمې له پرېکړې څخه خبر کړل شوي یاست او تاسې د استیناف 14 ورځو مودې کې د اداري سترې محکمې کې د استیناف غوښتنه نه وي کړې.
- تاسې د استیناف لپاره خپل غوښتنلیک او خپل استیناف باندې د اداري سترې محکمې پرېکړه ترلاسه کړې وي.

### کله یوه پرېکړه د تطبیق وړ وي؟

کله چې یوه پرېکړه د تطبیق وړ وي، دا په دې معنی دی چې تاسې په قانوني توګه له هېواد څخه شړل کېدی شئ. پرېکړه به خپل تاسې ته ووایي چې د تطبیق وړ دی که نه.

په دې اړوند چې تاسې کله له هېواد څخه شړل کېدی شئ نورو معلوماتو لپاره، لطفاً زموږ ویب پاڼې سره مشوره وکړئ.

نور معلومات: [migri.fi/en/refusal-of-entry](migri.fi/en/refusal-of-entry)

## استخداموونکي په قانوني ډول اړ دي چې د کار کولو حق تایید کړي

استخداموونکی باید دا چې ایا بهرنی کارکوونکی د کارکوونکو د اړتیا وړ د استوګنې جواز لري یا دا چې نوموړی د استوګنې جواز ته اړتیا نه لري تایید کړي.

استخداموونکی که چېرې په قصدي یا بې پروایی سره هغه کارکوونکي چې د کار کولو حق نه لري استخداموي جرم ترسره کوي.

پېرېدونکو لپاره لارښووني

1 سپتمبر 2019

استخداموونکی له کارکوونکو څخه په دې اړوند پوښتلو سره یې تاییدولی شي. استخداموونکی همداراز له پناه غوښتونکی څخه د کار کولو حق د سند غوښتنه کولی شي.

دا چې دغه کار څنګه ترسره کېدلی شي اړوند نور معلومات زموږ ویب پاڼه [mifri.fi/en/certificate-requests](mifri.fi/en/certificate-requests) څخه ترلاسه کولی شئ.